مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲٦٥** (از ۱۰ الی ۱۷ سنبله ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**په افغان سوله کې د سیمه‌ییزو هڅو رول او راتلونکی**

د سولې سیمه‌ییزې هڅې ........ ۴

افغان حکومت او د سولې سیمه‌ییزې هڅې ........ ۵

طالبان-امریکا خبرې اترې ........ ٦

پایله ........ ۷

**تغییر در قوماندهٔ نیروهای خارجی و تأثیرش بر جنگ افغانستان**

نگاهی به تغییر قوماندهٔ جنگ (۲۰۰۱ -۲۰۱۸م) ........ ۹

استراتیژی نظامی دونالد ترامپ ........ ۱۰

نیاز به تغییر راه‌کار امریکا در افغانستان ........ ۱۱

## مقدمه

په افغانستان کې د رواني جګړې د درولو او په ځانګړې توګه له طالبانو سره د افغان حکومت د سولې هڅې له بن‌بست سره مخ دي او دا جګړه ورځ تر بلې پېچلې کېږي. همدا لامل دی، چې د سیمې او نړۍ په کچه یو شمېر هېوادونو هم په افغان قضیه کې رول لوبولو ته رادنګلي دي.

په وروستیو ورځو کې په روسیه کې د افغان سولې په تړاو د یوې غونډې پلانېدل او دغه راز ازبکستان ته د طالبانو د سیاسي دفتر د یوه جګ‌پوړي پلاوي سفر او له ازبک چارواکو سره د افغان سولې او له هېواده د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه خبرې، د دغو سیمه‌ییزو هڅو وروستي موارد دي. که څه هم افغان حکومت تراوسه له طالبانو د مخامخ خبرو په پیلولو کې پاتې راغلی؛ خو داسې تمې هم شته، چې امریکا له دغې ډلې سره مخامخ خبرو ته راوړاندې شي. دا چې د افغان سولې په تړاو سیمه‌ییزې هڅې په دې منځ کې څه رول لري او پر افغان قضیه به یې اغېزې څه وي، هغه پوښتنې دي، چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل په لومړۍ برخه کې پرې شننه لولئ.

د تحلیل دویمه برخه بیا په افغانستان کې د امریکا او ناټو ځواکونو د عمومي قوماندان د بدلون موضوع ته ځانګړې شوې ده. له یوې خوا په تېرو ۱۷ کلونو کې څو ځله په افغان کې د بهرنیو ځواکونو عمومي قومانده بدله شوې او له بلې خوا امریکا د دغې جګړې له پیل راهیسې څو ځله خپلې تګلارې بدلې کړې دي؛ خو په دغو تګلارو کې تل د جګړې پر ډګر تمرکز شوی دی. د ډونالډ ټرمپ د پوځې تګلارې له اعلان یو کال وروسته هم، له یوې خوا زلمی خلیلزاد د افغانستان لپاره د امریکا ځانګړی استازی ټاکل شوی او ورسره هم‌مهاله، د نړیوالو ځواکونو نوی عمومي قوماندان هم خپله دنده پیلوي. ایا دا بدلونونه به د افغانستان پر جګړې څه اغېزې ولري، هغه پوښتنه ده، چې د نورو پوښتنو ترڅنګ د تحلیل په دې برخه کې ځواب شوې ده.

# په افغان سوله کې د سیمه‌ییزو هڅو رول او راتلونکی



د افغان سولې په تړاو په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه هڅې روانې دي، چې ځینې لوبغاړي یې په دغو هڅو کې خپلې موخې لټوي. طالبان هم د خپلې ډیپلوماسۍ په لا ډېر فعالولو سره هڅه کوي، چې پر افغان حکومت او نړیواله ټولنه د فشار لپاره دغه لوبغاړي لا پسې زیات کړي.

د افغان سولې په تړاو له تېرو څو کلونو راهیسې دا ډول هڅې کېږي؛ خو په تېرو څو میاشتو کې بیا د تېر په پرتله ګړندۍ شوې دي. که دغو هڅو ته ځیر شو، نو دا په دوو برخو وېشل شوې دي؛ یوه یې هغه هڅې دي، چې د افغان حکومت او امریکا په خوښه او یا هڅونه ترسره کېږي او بله یې بیا پر امریکا د فشارونو او یا هم د طالبانو د فعالې ډیپلوماسۍ په پایله کې دي.

افغان حکومت د سیمې په کچه د تاشکند له غونډې وروسته په سعودي عربستان کې د خپلې خوښې یوې مهمې غونډې پر جوړولو وتوانېد، چې په پایله کې یې پر طالبانو د فشار لپاره په افغانستان کې د روانې جګړې د ناروا والي په تړاو هم د تر په پرتله یو څه متفاوته او روښانه اعلامیه خپره شوه؛ خو په وروستیو کې په روسیه کې

له طالبانو سره د سولې اړوند يوې غونډې پلانېدل بيا د افغان حکومت د خوښې خلاف چاره وه، بلکې افغان حکومت ته د اندېښنې وړ هم وه.

دا چې د سولې په تړاو سیمه‌ییزې هڅې څه دي او څه موخې لري، په دې تړاو څه اندېښنې او خنډونه شته دي او د دغو هڅو اغېزې او راتلونکی به څه وي؟ هغه پوښتنې دي چې دلته يې د ځوابولو هڅه شوې ده.

## د سولې سیمه‌یېزې هڅې

قطر هغه هېواد دی، چې لومړی ځل يې د افغانستان په سوله کې د رول لوبولو په لور گام پورته کړ او په دوحه کې يې طالبانو ته د امريکا په تفاهم سياسي دفتر پرانيست. که څه هم د ټرمپ له واک ته رسېدو سره د دغه دفتر د تړل کېدو اوازې هم خپرې شوې؛ خو داسې ښکاري چې لا هم قطر دفتر د طالبانو د ديپلوماتيکو فعاليتونو تر ټولو ځواکمن ادرس دی او د دغه ادرس شتون د دې لامل هم شو، چې د افغان سولې او په ځانگړې توگه له طالبانو سره د خبرو اترو په قضيه کې، په سیمه‌ییزه او نړيواله کچه د ځينو هېوادونو رول او مداخلې ته لا ډېره زمينه برابره شي. طالبانو هم په تېرو څو کلونو کې خپل بېلابېل فعاليتونه او مذاکرات له همدغه ادرسه تنظيم کړي او ان يو شمېر مهمو لوبډيزو چارواکو هم د قطر دفتر له غړو سره په بېلابېلو وختونو کې کتلي دي.

د افغان سولې په تړاو په سیمه‌ییزو هڅو کې د قطر رول، د دا ډول هڅو تر ټولو اغېزناک رول بلل کېږي او تراوسه داسې تورونه، چې گواکې قطر دې د دغه دفتر تر شا ورانکارې موخې ولري، نه ترسترگو کېږي. له همدې کبله داسې تمه هم شته ده، چې له طالبانو سره د سولې د مخامخ خبرو لپاره به دا دفتر په رسميت وپېژندل شي.

پاکستان د قطر دفتر له پرانيستلو سره له لومړي سره مخالف و؛ خو نورو هېوادونو بيا د دغه دفتر له موجوديت څخه په افغان قضيه کې د خپل رول د تقويه کولو لپاره گټه واخيسته، چې له جملې يې له طالبانو سره د ايران اړيکې يادولی شو. ايران او طالبانو دواړو دا اړيکې منلې دي؛ خو د ځينو دليلونو په وړاندې کولو سره يې خپلې دا اړيکې توجيه کړې دي؛ مگر امريکا او افغان حکومت بيا ايران د طالبانو په پټ ملاتړ تورنوي. دا چې له يوې خوا ايران په افغانستان کې له داعش ډلې وېره لري او له بلې خوا يې له امريکا سره اړيکې خرابې دي،

اوسمهال داسې برېښي چې ښايي ایران به له طالبانو سره خپلې اړیکې لا پراخې کړي، کوم څه چې له طالبانو سره د امریکا د مخامخ خبرو د اړتیا او احتمال پر زیاتوالي هم اغېز لرلی شي.

د ایران تر څنګ روسيې هم په افغانستان کې د داعش ډلې له راڅرګندېدو وروسته له طالبانو سره اړیکې جوړې کړې؛ خو روسیه که له یوې خوا له داعش ډلې وېره لري، له بلې خوا یې دا اړیکې په نړیواله کچه له امریکا سره د سرې جګړې یوه برخه هم بلل کېږي. له همدې کبله د روسيې د هڅو موخه په افغانستان کې د سولې لپاره نه ګڼل کېږي. د ملي یووالي حکومت چې د حامد کرزي د دویمې دورې په پرتله له امریکا سره ښې اړیکې لري، له روسيې سره یې اړیکې تر یوه بریده خرابې دي، ان تر دې چې تېر کال یو ځل ولسمشر غني دغه هېواد نېغ په نېغه طالبانو ته د وسلو په ورکولو هم تورن کړ. په دې توګه افغان حکومت د سولې تر نوم لاندې د روسيې هڅو ته د شک په سترګه ګوري او دا له امریکا سره د روسيې د سړې جګړې یوه برخه بولي.

دغه راز یو شمېر نور هېوادونه، لکه ازبکستان، بیا له یوې خوا په افغانستان کې د خپلو سیمه‌ییزو پروژو په څېر، خپلو ګټو د خوندیتوب او یا هم د داعش ډلې د پراختیا له وېرې له طالبانو سره اړیکې جوړوي او د افغان قضیې او له طالبانو سره د سولې په خبرو کې د رول لوبولو هڅه کوي.

## افغان حکومت او د سولې سیمه‌ییزې هڅې

د افغان سولې په قضیه کې د لوبغاړو د ډېرېدو اساسي لامل له طالبانو سره د سولې په خبرو کې د افغان حکومت پاتې راتګ دی، چې له کبله یې یو شمېر هېوادونه هڅه کوي، طالبان له افغان حکومت سره د سولې مخامخ خبرو ته چمتو کړي او یو شمېر نور بیا د طالبانو او امریکا مخامخ خبرو ته د زمینې برابرولو په هڅه کې دي.

افغان حکومت له ۲۰۱۰ کال راهیسې له طالبانو سره د سولې هڅې پیل کړې دي؛ خو ډېرې وخت یې پروژه‌یي بڼه اخیستې او د سولې د عالي شورا په څېر یې له ملیونونه ډالرو لګښت سره سره کومه رغنده پایله نه ده لرلې. د ملي یووالي حکومت که څه هم د کرزي د دورې په پرتله یو ګام وړاندې ولاړ او طالبانو ته یې د ځینو امتیازونو په منلو سره د مخامخ خبرو وړاندیز وکړ؛ خو بیا یې هم تګلاره له جدي ننګونو سره مخ ده او ځکه یې تراوسه پایله هم نه ده لرلې. تر ټولو اساسي ستونزه دا ده، چې طالبان افغان حکومت د دوی د اساسي غوښتنې یعنې په افغانستان کې د مېشتو بهرنیو ځواکونو د برخلیک په تړاو بې‌صلاحیته بولي او له دغه حکومت سره له مخامخ

خبرو انکار کوي. د دې ترڅنګ ځینې نورې ستونزې، لکه د حکومت داخلي اختلافات، هم د دې لامل شوي چې حکومت په دې چاره کې ناکام پاتې شي.

دا چې په افغان قضیه کې د سیمه‌ییزو هېوادونو رول په زیاتېدو شو، افغان حکومت هم هڅه وکړه چې په سیمه‌ییزه کچه د سولې قضیې ته د ځینو هېوادونو مرسته راجلب کړي او په یو ډول دا هڅې تر خپل کنټرول لاندې راولي. همدا لامل دی، چې ولسمشر غني د کابل پروسې په پیلولو سره د سولې په بهیر کې د افغانانو په رهبری او مالکیت ټینګار کړی دی. د حکومت په دغو سیمه‌ییزو هڅو کې د تاشکند کنفرانس او په سعودي عربستان کې د دیني علماوو غونډې یادولی شو. که څه هم نړیواله ټوله چمتو نه ده چې د خپلو ۱۷ کلنو هڅو په پایله کې جوړ شوی حکومت په اسانۍ سره له پامه وغورځوي؛ خو د حکومت دا ډول هڅې او تر خپل کنټرول لاندې د سولې بهیر راوستل له همدې وېرې څرګندېږي. افغان حکومت وېره لري، چې که د سولې په خبرو کې پاتې راځي، له یوې خوا دا په ټولو برخو کې د حکومت ناکامیو ته لاره هواروي او له بلې خوا ښايي امریکایان هم بالاخره دا اړتیا درک کړي، چې خپله دغو خبرو ته ورمخکې شي او په داسې حال کې چې تراوسه یې د افغان حکومت په مشرۍ ټینګار کاوه، اوس یې تر یوه بریده له پامه وغورځوي. له همدې امله، په قطر کې له طالب استازو سره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د مرستیالې آلیس وېلز مخامخ خبرې د افغان حکومت لپاره د اندېښنې وړ خبره وه او د یوې اعلامیې په خپرولو سره یې وویل، چې هېڅ بل هېواد د سولې په خبرو کې د افغانستان ځای نه شي نیولی.

## طالبان-امریکا خبرې اترې

له یوې خوا د حکومت د سولې تګلاره تراوسه ناکامه ده او طالبانو د ولسمشر غني بلنې ته رد ځواب ورکړ؛ له بلې خوا له طالبانو سره د سیمه‌ییزو هېوادونو په ځانګړې توګه ایران او روسیې اړیکې په پراخېدو دي، کوم څه چې افغان قضیه د لا ډېرې پېچلتیا په لور بیایي.

لا هم تمه نه کېږي چې طالبان دې په اسانه له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته کېني؛ ځکه په دې تړاو پر پاکستان له فشارونو نیولې، پر طالبانو تر نظامي او سیاسي فشارونو پورې ټولو هڅو پایله نه ده لرلې او بیا اوس چې امریکا هم له طالبانو سره د مخامخ خبرو لپاره شین څراغ ورکړی، له حکومت‌سره د طالبانو مخامخ خبرې په نژدې راتلونکي کې ناشونې برېښي. د دې ترڅنګ، که څه هم پر پاکستان له نړیوالو فشارونو سره هم‌مهاله د

عمران خان راتګ، د افغانستان په سوله کې د دغه هېواد د همکارۍ هیلې راوټوکولې؛ خو بیا هم داسې برېښي چې پر پاکستان فشارونه او یا هم په دغه هېواد کې وروستي بدلونونه، له افغان حکومت سره د طالبانو مخامخ خبرو ته لاره نه شي هوارولی.

په بل اړخ کې، د طالبانو ډیپلوماسي هم په تېرو څو کلونو کې پام‌وړ فعاله شوې ده. طالبانو په تېرو څو کلونو کې له روسیې او دسیمې له یو شمېر نورو هېوادونو سره اړیکې جوړې کړې دي، چې د نورو لاملونو ترڅنګ، همدا چاره هم د دې لامل شوې چې امریکا له ۱۷ کلونو وروسته له دغې ډلې سره مخامخ خبرو اترو ته چمتووالی وښیي.

که څه هم د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې اترې په ۲۰۱۳ کې د قطر دفتر له جوړولو سره پیل شوې او وروسته بیا د باو برګډال په نوم د یوه امریکایي پوځي او پنځو جګپوړو طالب بندیانو د تبادلې په اړه هم خبرې اترې وشوې؛ خو د افغان حکومت د ټینګار له کبله یې دا دفتر تراوسه په رسمیت نه دی پېژندلی او د افغان سولې په تړاو یې هم له دغې ډلې سره رسمي خبرې اترې نه دي کړې.

## پایله

که څه هم له طالبانو سره د سولې د قضیې په اړه د سیمه‌ییزو هېوادونو هڅې، ښایي د حکومت او طالبانو د مخامخ خبرو لامل نه شي؛ خو په ټولیز ډول د سولې له پروسې سره مرستندویې دي، ځکه تر څو چې امریکا په خبرو کې مستقیم رول او ونډه ونه لري، د سولې د بهیر بریا ناشونې برېښي. له همدې کبله په تېره بیا د روسیې په څېر هېوادونو دا ډول فشارونه د امریکا پر دریځ اغېز ښندلی شي.

طالبان هم اوس د بل هر وخت په پرتله د سولې خبرو ته ډېر لېوال دي. که څه هم په کوچني اختر کې په درې ورځني اوربند سره طالبانو وښوده، چې په روانه جګړه کې لا هم تر ټولو پیاوړی ځواک او مهم فکتور همدا ډله ده؛ خو بیا هم دا چې داعش ډله ورځ تر بلې په افغانستان کې پیاوړې کېږي، طالبان د جګړې په ډګر کې د خپل رول د پیکه کېدو په وېره کې دي. له بلې خوا پر طالبانو د ولسي، سیاسي او نظامي فشارونو زیاتېدل هم د دې لامل شوي، چې د سولې خبرو ته د تېر په پرتله ډېر لېوال شي. پای

# تغییر در قوماندهٔ نیروهای خارجی و تأثیرش بر جنگ افغانستان




جنرال اسکات میلر که حدود دو ماه قبل به جای جنرال نیکلسن، به عنوان قوماندان عمومی جدید نیروهای خارجی در افغانستان (نیروهای مأموریت حمایت قاطع ناتو) تعیین شده بود، هفتهٔ گذشته (۱۱ سنبله ۱۳۹۷هـ ش) رسماً به حیث قوماندان عمومی جدید این نیروها در افغانستان معرفی و آغاز به کار کرد.

اسکات میلر نهمین قوماندان نیروهای خارجی در جنگ ۱۷ سالهٔ امریکا و ناتو در افغانستان است. میلر که قبل از این ریاست قوماندانی عملیات خاص نیروهای نظامی امریکا را به عهده داشت، در حالی به حیث قوماندان عمومی نیروهای خارجی در افغانستان معرفی می‌شود که جنرال‌های پیشین امریکا در جنگ افغانستان موفق به شکست گروه‌های مسلح ضد دولت افغانستان نشدند و در طول ۱۷ سال گذشته، بدون ادامه و گسترش جنگ، دست‌آورد دیگری نداشتند.

این که در طول ۱۷ سال گذشته تغییر قوماندهٔ جنگ نیروهای خارجی در افغانستان چه تاثیراتی روی جنگ در این کشور داشته است؟ راه‌کار نظامی دونالد ترامپ چه تاثیراتی روی این جنگ گذاشت؟ و اینکه راه‌کار امریکا در رابطه به جنگ افغانستان به چه تغییراتی نیاز دارد؟ از مواردی اند که در این قسمت از تحلیل هفته روی آن بحث صورت گرفته است.

## نگاهی به تغییر قوماندهٔ جنگ (۲۰۰۱ -۲۰۱۸م)

جنگ جاری در افغانستان حدود ۱۷ سال قبل از امروز، از سوی امریکا و ناتو در این کشور آغاز گردید و ظاهراً حادثهٔ ۱۱ سپتامبر در امریکا، یکی از دلایل اصلی حملهٔ امریکا بر افغانستان بود.

این جنگ به هدف سقوط رژیم طالبان و محو پایگاه‌های القاعده در افغانستان آغاز گردید. هرچند در اوایل نیروهای ناتو و امریکا طالبان را شکست دادند، ولی شکست طالبان در سال ۲۰۰۱ یک شکست موقتی بود و حرکت طالبان دوباره فعالیت‌های جنگی خود را در مناطق مختلف کشور آغاز کرد و اکنون نسبت به چند سال گذشته، به مراتب قوی‌تر شده است. در سال‌های اخیر، موج ناامنی‌ها به مراکز ولایات گسترش یافته و در حال حاضر بخش زیادی از خاک افغانستان از کنترول حکومت خارج است.

با آنکه این جنگ از هفده سال به اینسو در افغانستان جریان دارد و روز به روز شعله‌ور‌تر می‌شود، بر علاوهٔ طرف‌های درگیر، ده‌ها هزار تن از افراد ملکی نیز در این جنگ کشته و زخمی شده‌اند؛ اما نه امریکا و نه هم گروه‌های مخالف مسلح دولت موفق به محو جانب مقابل خویش از میدان جنگ شده‌اند.

در طول ۱۷ سال گذشته امریکا و متحدین‌اش با افزایش ده‌ها هزار سرباز، تغییر و تبدیل قوماندانان و رهبری جنگ و حتی تغییر در استراتیژی‌های جنگی خود، در جنگ افغانستان توفیقی نداشتند و موفق به شکست مخالفین مسلح نشدند.

از سال ۲۰۰۱ الی ۲۰۱۸م جنرال‌های مختلفی چون جنرال دیوید مک کرنان، جنرال استنلی مک کریستال، جنرال دیوید پتریوس، جنرال جان آلن، جنرال جوزف دانفورد، جنرال جان کمپبل و جنرال جان نیکلسون، رهبری نیروهای مستقر امریکا و ناتو در افغانستان را به عهده داشتند؛ اما بدون ادامه وتشدید جنگ و به میان آمدن بی‌ثباتی سیاسی و امنیتی در کشور، هیچ یک از آنان دست‌آوردی دیگر در جنگ افغانستان نداشت.

## استراتیژی نظامی دونالد ترامپ

میدان گرم جنگ جاری امریکا در افغانستان، میراث حکومت‌های قبلی امریکا به ادارۀ دونالد ترامپ است. با آنکه ترامپ قبل از رسیدن به کرسی ریاست جمهوری امریکا، بارها با جنگ امریکا در افغانستان مخالفت کرده بود؛ اما با رسیدن به کاخ سفید، وی نیز بر ادامۀ جنگ امریکا در افغانستان تأکید ورزید.

ترامپ در ۲۲ آگست ۲۰۱۷م، استراتیژی جدید خود برای افغانستان و جنوب آسیا را اعلام کرد. این استراتیژی بر ادامۀ حمایت از حکومت افغانستان، نابودی گروه‌های "تروریستی" و از بین بردن پایگاه‌های امن این گروه‌ها در پاکستان متمرکز بود. او در روز اعلان استراتیژی جدید خود، در سخنرانی‌اش چندین بار به پیروزی در جنگ افغانستان تأکید کرد و از پیروزی خود چنین تعریف کرد: «حمله بر دشمنان، نابود ساختن داعش، ضربه زدن به القاعده، جلوگیری از تسلط طالبان بر افغانستان و نیز پایان دادن به حمله‌ها در برابر ایالات متحده.»

در حال حاضر باگذشت یک سال از اعلان استراتیژی جدید امریکا برای افغانستان، وضعیت در افغانستان بیش از پیش وخیم‌تر شده است. بر بنیاد گزارش اداره سیگار بیشتر از ۴۰ درصد خاک افغانستان تحت کنترول مخالفین مسلح دولت افغانستان قرار دارد. همچنان طالبان نیز بیشتر به حملات تهاجمی جمعی بر مراکز ولایات روی آورده‌اند. سقوط کندز و برای دو هفته تسلط بر آن، هجوم گروهی بر مرکز ولایت‌های فراه و غزنی و زیرکنترول درآوردن اکثریت اداره‌های دولتی در مراکز این دو ولایت از موارد اخیری بود که طالبان چندین روز در مرکز این ولایات با نیروهای افغان جنگیدند.

از سویی هم، گروه داعش که ترامپ از نابودی آن سخن می‌گفت، نیز بیشتر از قبل به حملات خود شدت بخشیده است. گروه داعش علاوه بر حمله بر اداره‌های دولتی، رسانه‌ها، مساجد، مراکز آموزشی و فرهنگی را نیز چندین بار مورد هدف حملات خونین خود قرار داده است. این گروه مسؤولیت حملۀ راکتی روز عید قربان بر ارگ ریاست جمهوری را نیز بر عهده گرفت.

با در نظر داشت این وضعیت، بعد از گذشت یک سال، در حال حاضر امریکا می‌خواهد، با تغییر در قوماندۀ جنگ، خود را پیروز جنگ افغانستان نماید؛ اما با در نظر داشت ۱۷ سال گذشته و آوردن چندین بار تغییر در قوماندۀ نیروهای خارجی مستقر در افغانستان، به نظر نمی‌رسد تغییر در رهبری نیروهای خارجی در افغانستان کار ساز باشد.

## نیاز به تغییر راه‌کار امریکا در افغانستان

با گذشت بیشتر از یک‌ونیم دهه از حملۀ امریکا بر افغانستان و آغاز جنگ خونین جاری، تنها چیزی که برای امریکا دست‌آورد محسوب می‌شود، این است که جنگ در افغانستان جریان داشته و امریکا حضور نظامی خود را در منطقه حفظ کرده است.

با آنکه ادارۀ دونالد ترامپ نیز مانند حکومت‌های قبلی امریکا تلاش کرد تا از راه تمرکز بر جنگ و فشارهای نظامی، در جنگ با مخالفین مسلح نیروهای خارجی و حکومت افغانستان پیروز شود؛ اما این فشارها بدون تکرار تجارب ناکام گذشته، چیز دیگری نبود.

با گذشت یک سال از استراتیژی جدید امریکا برای افغانستان، چندی قبل در رسانه‌های خارجی گزارش‌هایی منتشر شد که گویا امریکا استراتیژی خود را در قبال جنگ افغانستان بازنگری خواهد کرد. از سویی هم، قبل از نشر این گزارش‌ها، روزنامۀ نیویارک تایمز در گزارشی نگاشته بود که دونالد ترمپ به دیپلومات‌های خود در رابطه به آغاز گفتگوهای رو در رو با طالبان فرمان داده است.

بر ادامۀ نشر این گزارش‌ها، چندی بعد گزراش‌هایی از دیدار رو در روی یک مقام بلندرتبۀ امریکایی و نماینده‌گان طالبان در دوحه پایتخت قطر نیز به نشر رسید و طالبان نیز آنرا تایید و یک ملاقات مهم عنوان نمودند. هرچند این دیدار، مردم افغانستان را در رسیدن به صلح امیدوار ساخت؛ اما تحقق واقعی صلح وابسته بر ادامۀ این مذاکرات و رسیدن به یک نتیجۀ مثبت و ملموس می‌باشد؛ چیزیکه در حال حاضر در هاله اي از ابهام قرار دارد.

در این حال، با در نظرداشت چگونگی جنگ امریکا در افغانستان، تغییر در قوماندۀ نیروهای خارجی در افغانستان راه‌حل مؤثری برای جنگ افغانستان پنداشته نمی‌شود؛ چون هر قوماندان نظامی، مکلف به پیشبرد استراتیژی از قبل تعیین شده می‌باشد و در حال حاضر نیز اسکات میلر، مکلف به پیشبرد استراتیژی جنگی نیروهای امریکایی و ناتو در افغانستان است.

جنرال اسکات میلر در زمان حمله امریکا بر افغانستان از اولین قوماندان‌هایی بود که به افغانستان آمده بود، میلر از سال ۲۰۱۰ الی ۲۰۱۱م به عنوان مسؤول آموزش و تجهیز نیروهای محلی و پولیس در افغانستان باقی ماند و در سال ۲۰۱۳م قوماندۀ نیروهای خاص امریکایی در افغانستان را بر عهده داشت. در کل جنرال اسکات میلر از جمله آغازگران حمله امریکا بر افغانستان بر شمرده می‌شود و فردي دارای تجربه در

پالیسی‌های جنگی و چگونگی برخورد با مخالفین مسلح دولت افغانستان است؛ اما در حال حاضر آمدن همچون افراد در رهبری نیروهای خارجی در افغانستان، احتمال تشدید جنگ را با خود خواهد داشت.

در حال حاضر نیاز است که امریکا و متحدین‌اش راه‌کاری را روی دست گیرند که باعث خاتمۀ طولانی‌ترین جنگ خارجی آنان گردد و به صورت مشخص تلاش صورت گیرد تا گفتگوهای رودرروی امریکا ـ طالبان ادامه یابد و نتیجۀ ملموسی از آن بدست آید.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com